ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آريا

۲۰۲۶/۰۵/۱۵

# د افغانستان بايوګرافيکي قاموس
## دوهم ټوک
(دوه پنځوسمه برخه)

## صباح الدين کشککي

د برهان الدين دريم زوی په ۱۹۳۳ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۲ز کال کې د غازي له ښوونځي څخه فارغ سوی دئ او له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د امريکا د متحده اياﻻتو په لينکلن کې د نبراسکا [1] پوهنتون ته تللی دئ. په ۱۹۵۸ز کال کې ئې د (سيراکيوس) [2] له پوهنتون څخه خپله ماستري په ژورناليزم کې واخيسته. په ۱۹۵۹ز کال کې د اصلاح محرر. په ۱۹۶۰ز کال کې د راډيو افغانستان د خبرونو مسؤول مدير. په ۱۹۶۱ز کال کې د باختر خبري آژانس رئيس. په ۱۹۶۵ز کال کې د راډيو افغانستان رئيس. په ۱۹۶۸ز کال کې (له عبدالحق واله سره په ګډه او همکارۍ) د کاروان د ورځپاڼې ناشر. په ۱۹۷۲ز کال کې د اطلاعاتو او کلتور وزير. د ۱۹۷۸ زکال د مې له مياشتې د ۱۹۸۱ز کال د جنورۍ تر مياشتې پورې په پلچرخي کې زنداني. په ۱۹۸۰ز کال کې له افغانستانه ووت. د پاکستان په اسلام آباد کې د افغان کلتوري شورۍ غړی. د ۱۹۸۰ز لسيزې په اوږدو کې د افغانستان په اړوند د مقالاتو ليکوال. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

## عبدالغفار لکنوال

په ۱۹۷۰ز کال کې ئې کرنه د جرمني په (ساربروکن) [3] کې لوستې ده. د ۱۹۷۸ز کال د مې په مياشت کې د ويش او استوګنې د رياست رئيس. په ۱۹۸۰ز کال کې د ځمکو د اصلاحاتو مرستيال وزير. د ۱۹۸۲ز کال د آګست په مياشت کې د کرنې وزير. په ۱۹۸۲ز کال کې د انقلابي شورۍ د رئيسه هيـئت غړی. د بزګرو د کوپراتيفونو رئيس.

## محمد يعقوب لعلي

په ۱۹۲۶ز کال کې د هزاره جاتو د لعل و سرجنګل په يوې کورنۍ کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۶ز کال کې د حبيبيې له ليسې څخه فارغ سوی دئ. د امريکا متحده اياﻻتو ته لاړ او د ړکورنل) [4] په پوهنتون کې ئې تحصيل وکړ چې ۱۹۵۳ز کال کې ئې خپل ليسانس او په ۱۹۵۴ز کال کې ئې خپله ماستري په انجنيرۍ کې تر لاسه کړه. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۶۲ز

[1] -University if Nebraska at Lincoln
[2] -Syracuse University
[3] -Saarbrueken
[4] - Cornell University


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کال پورې د هلمند د پرمختیایي پروژې د ساختماني دستگاه رئیس. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د تخنیکي پرمختگ د دستگاه مرستیال رئیس. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د HVA مرستیال رئیس. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د ټولګټو/ فواید عامې وزیر. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د کانونو او صنایعو وزیر. د معارف د وزارت د پخواني مرستیال وزیر محمد اسحٰق [5] له لور بلقیس سره ئې واده کړی او په کابل کې اوسېږي.

## عبدالرشید لطیفي

د ۱۹۱۲ز کال په شاو خوا کې په کابل کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې د نجات په ښوونځي کې کړې دي. ژورنالیست، لیکوال او ډرامه لیکونکی. په ۱۹۲۷ز کال کې په انیس کې تازه استخدام سوی خبریال. له ۱۹۳۰ز کال راهیسي د عامې روغتیا د ژورنال محرر او له ۱۹۳۴ تر ۱۹۴۸ز کال پورې ئې د مطبوعاتو په ریاست کې په بېلابېلو څوکیو کې کار کړی دئ. د انیس محرر او تر ۱۹۵۶ز کال پورې د راډیو کابل رئیس. د نشراتو رئیس. په قاهرې کې د افغان سفارت اتشه؛ همدلته ئې عربي زده کړه او ګڼ شمېر عربي کتابونه ئې دري ته وژباړل. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د باندنیو چارو په وزارت کې د سیاسي چارو رئیس. دی لومړنی افغان وو چې د «عشق و دوستی» [6] په نوم فلم ئې په ۱۹۴۶ز کال کې دایرکت او تولید کړ؛ دا فلم په بمبئي کې د هندوستان د محرکو تصاویرو د پرودیوسرانو په همکارۍ جوړ سوی وو. د پوهنې د ننداري تیاتر سرپرستي ئې وکړه او د افغان هنرمندانو او ممثلینو په روزنه کې ئې مرسته وکړه. عبدالرشید لطیفي د افغانستان د تیاتر د پلار په نوم شهرت لري. د «متخصص سالن» [7] په نوم ئې یوه ډرامه ولیکله چې په هغې کې ئې هغه افغانان په لویدیځ پالنې تنقید کړل چې په بهر کې ئې تحصیلات کړي دي. مورنۍ ژبه ئې دري وه. په ۱۹۷۲ز کال کې وفات سو.

## شاه لطیفي

د عبدالباقي لطیفي زوی په ۱۹۳۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۵ز کال کې د استقلال له لیسې څخه فارغ او بیا د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ لومړی ئې په سیاسي علومو کې د A.A. سند تر لاسه او بیا ئې په ۱۹۶۳ز کال کې خپل لیسانس په سیاسي علومو کې ترلاسه کړ او خپله ماستري ئې په ۱۹۶۵ز کال کې د تیاتر په هنرونو په «لاس انجلس کې د کالیفورنیا له پوهنتون» [8] څخه تر لاسه کړه. په ۱۹۷۵ز کال کې ئې په «لاس انجلس کې د کالیفورنیا له پوهنتون» څخه سرتیفیکت په نړۍ والې راډیو او ټلویزیون ورکشاپ کې تر لاسه کړ. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال کې د کابل پوهنتون د ښکلیو هنرونو د پوهنځي مشر. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۷ زکال پورې د کابل پوهنتون د تیاتر او هنرونو پوهندوی. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د کابل پوهنتون د باندنیو ژده کوونکو د ډیپارتمنت مشر او د ښوونکو د روزنې لپاره د اندیانا د ټیم اسیستانت. ډرامه لیکونکی. ۱۱ ډرامې ئې په پارسي ولیکلې چې د افغانستان په بېلابېلو ښارونو کې ننداري ته وړاندې سوې، یوه ډرامه ئې «پدرم نیست» نومېږي چې په ځانګړې توګه بریالۍ وه. افغان او امریکایي جوایز ئې ګټلي دي.

---

[5] -Muhammad Ishaq
[6] -Ishq wa Dosti
[7] -Motakhasis-i-Salun
[8] -University of California at Los Angeles (UCLA)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

# سليمان لايق

د سليمان خيلو له قبيلې څخه د مولوي عبدالغني زوی د ۱۹۳۰ز کال د اکتوبر د مياشتې په ۷ نېټې زېږېدلی دئ. پلار ئې د شيخ احمد سرهندي لاسنيوی/ د طريقت پيروي، کړی وو چې د مجدد په نوم يادېدهٔ يعنی د دوهمې زريزې تجديد کوونکی (او په ۱۹۲۳ز کال کې د ګوډ ملا ملاتړی) نو ځکه ئې ددهٔ نوم لايق غلام مجدد کښېښود. په ۱۹۷۴ز کال کې ئې په مجدديانو باندې خپل اعتقاد له لاسه ورکړ او خپل نوم ئې سليمان ته بدل کړ، دا هغه نوم وو چې مور ئې غوښتل او د (لايق) لاحقه ئې د خپل پلرني پښت د سلسلې له اووم نسل راپه دېخوا رااخيستې ده.
مخکې له دې چې ښوونځي ته لاړ سي په جومات کې ئې زده کړې وکړې او هلته ئې ددري ژبې منظوم کتابونه او ابتدايي عربي ولوستله. په ۱۹۴۱ز کال کې د حبيبيې د ښوونځي په دوهم ټولګي کې شامل سو. په ۱۹۴۷ز کال کې د پغمان د اسلامي شريعت د مدرسې په ثانوي برخه کې شامل سو او په ۱۹۵۲ز کال کې ورڅخه فارغ سو. په ۱۹۵۲ز کال کې د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي کې شامل سو خو په ۱۹۵۴ز کال کې له دولت سره د مخالفت په کړس کې له پوهنتون څخه وشړل سو. په ۱۹۵۴ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي کې شامل سو او په ۱۹۵۷ز کال کې له نوموړي پوهنځي څخه فارغ سو. په ۱۹۵۸ز کال کې ئې د **هېواد** په ورځپاڼې کې کار وکړ او په همدې کال کې ئې د پښتو په اشعارو کې خپله لومړنۍ جايزه تر لاسه کړه. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۵ز کال پورې ئې په راډيو افغانستان کې کار وکړ. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۷ز کال پورې ئې د اطلاعاتو په وزارت کې کار وکړ. په ۱۹۶۸ز کال کې د پرچم د جريدې سرمحرر سو. په ۱۹۶۵ او ۱۹۶۷ز کلونو کې د ولسي جرګې د دولسمې او ديارلسمې دورې لپاره د بغلان ولايت د پلخمري له ښار څخه د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د استازي په توګه ولسي جرګې ته کانديد سو خو ناکامه سو. لايق لا د پغمان د (ابو حنيفه – رض) د اسلامي شريعت د مدرسې په اتم ټولګي کې وو چې د لومړي ځل لپاره په سياسي فعاليتونو کې ښکېل سو خو په ۱۹۵۲ز کال کې مؤقتاً وشړل سو بيا په ۱۹۵۳ز کال کې وشړل سو. په ۱۹۶۴ز کال کې ئې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند په ۲۷ کسيزې بنسټ ايښودونکې غونډې کې ګډون وکړ؛ دا غونډه د افغانستان د پخواني ولسمشر نور محمد تره کي په کور کې جوړه سوې وه. له همدې کبله ده چې لايق ددې ګوند يو له بنسټ ايښودونکو څخه دئ. په ۱۹۶۶ز کال کې لايق د خلق د ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې علی البدل غړی سو. د غوايي له پاڅون وروسته نوموړی د راډيو او تلويزيون وزير سو. د ۱۹۷۸ز کال د دسمبر په مياشت کې اړ ايستل سو چې په ګوند او حکومت کې له خپلو مقامونو څخه استعفی وکړي. د ۱۹۷۹ز کال د فبرورۍ په مياشت کې ونيول سو او زندان ته واچول سو او د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر د مياشتې په ۲۳ نېټې د حفيظ الله امين له پلوه له مرکزي کمېټې څخه اخراج سو. د ببرک کارمل د حکومت له نصب کېدلو وروسته د ۱۹۸۰ز کال د اپريل د مياشتې په ۱۳ نېټې د علومو د اکاډيمۍ د رئيس په توګه وګومارل سو. په ۱۹۸۱ز کال کې د باندنيو چارو وزير. د مرکزي کمېټې علی البدل غړی. د انقلابي شوری غړی او د مرکزي کمېټې غړی. د جبههٔ ملي پدروطن مرستيال رئيس. د ۱۹۸۵ز کال د نوامبر په مياشت کې د سياسي بيرو علی البدل غړی. د ۱۹۸۶ز کال د جولای په مياشت کې د سياسي بيرو غړی سو. لايق د افغانستان دډيموکراتيک جمهوريت د ملي سرود د شعر شاعر دئ. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده خو په دري او عربي هم فوق العاده ښهٔ شعرونه لري. لايق د عبدالحق نوابي له لور سره وادهٔ کړی او ۵ بچيان لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

## عبدالقدوس لمر

د ۱۹۸۰ز کال د اپریل له میاشتي راهیسي د باختر د (باندنیو) خبرونو د آژانس مرستیال رئیس. د ۱۹۸۲ز کال د اپریل له میاشتي راهیسي د «کابل نیو ټایمز» محرر.

## رحمت الله لېوال

د مستوفي محمد اسلم زوی. په ۱۹۳۳ز کال کي د نادر شاه د قاتل( عبدالخالق ملګری او له همدې کبله تر یوې مودې پورې زنداني سوی وو. جرمني ته د زده کړو لپاره واستول سو. د ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ ز لسیزو په اوږدو کي د ملي بانک کارمند. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۱ز کال پورې ئې په قاهره کي زده کړو وکړې. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۵ز کال پورې د ګلبهار د فابریکي لپاره د وسایلو د پېرودونګ / خریدارۍ د ډلي غړی. په پښتو او دري کي د آثارو لیکوال. په ۱۹۸۰ز کال کي وفات سو.

## ډاکټر شاه زر لېوال

د خلق د ګوند، د کابل د ګوندي کمېټي مرستیال منشي. د مرکزي کمېټي غړی. د سویل ختیځ زون بولندوی. د خوست د ګوندي کمېټي منشي. (د غوایي له پاڅون وروسته) د اقوامو او قبایل د وزارت مرستیال وزیر.

**نور بیا**

## عبدالرحمن لودین

د کاکا سید احمد زوی. نظام نامهٔ ئې له تورکي څخه دري ته وژباړله. د سراج الاخبار...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ